AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

ليکوال: شهسوار سنګروال

۲۰۱۰/۰۸/۲۷م

# د افغانستان ورونړه قومونه

## لومړۍ برخه

په افغانستان او د افغانستان په ګاونډيو هېوادونو کې په لسګونو اريايي او نا اريايي بېلابېل قومونه مېشت او ودان دي.

په پاکستان او ايران کې بيا د بېلابېلو استوګنو قومونو شمېر ان د لسګونو نه زيات دی.

ولې د بد مرغۍ خبره دا ده چې اوس ايران او پاکستان زموږ په ګران هېواد افغانستان کې توکميزو ناندريو ته لمن وهي او د ايران هېواد له دې سربېره خپلې کرغېړنې لاسوهنې ان د مذهب تر پولو هم رسولې دي.

موږ بايد پوه شو چې د دغو دواړو هېوادونو موخه سياسي ده او نه غواړي چې په افغانستان کې يو پياوړی مرکزي حکومت ټينګ شي نو ځکه خو زموږ له سياسي او اقتصادي کمزورۍ نه د سېمې يو شمېر هېوادونه په سر کې پاکستان او ايران ګټه اخلي او کوښښ کوي چې خپلو کرغېړنو هڅو ته پراختيا ورکړي.

لکه څرنګه چې د اريايي توکم ګڼ شمېر وګړي د تاريخ په بېلابېلو پړاونو کې له افغانستان نه يو شمېر ګاونډيو هېوادونو ته کډه شوي دي همدا رنګه د نا اريايي توکم يو شمېر کورنۍ او وګړي بيا افغانستان ته راغلي دي.

سوونه سوونه کاله کيږي چې په افغانستان کې دغه مېشت قومونه څنګ په څنګ د ورونړو په څېر يو د بل سره اوسېدلي دي. ګډ تاريخي وياړونه لري او ګډې فرهنګي هڅې.

نو غوره به وي چې په دې اړه په هېواد کې د يو شمېر مېشتو ورونړو قومونو يو لنډ جاج واخلو:

پښتانه: د لرغوني افغانستان لرغوني اوسېدونکي دي چې د دې ټبر د ځنې قومونو يادونه هېرودت Herodotus (۴۸۶-۴۲۶ق. م) هم پخپل هغه نامتو اثر کې چې په لندن کې ژباړل شوی او خپور شوی دی کړې ده. لکه اپريتی= اپارتي (اوسني اپريدي)، باکتريا = باکتر (اوسنی باختر= بلخ) Bctrains او پکتيکا Pactyica يا پختويس او يا پکتويس په بڼه.

د لرغونو اريايانو په لرغوني کتاب ريګويدا کې هم پني، بريسا (بړېڅ)، پروتا (اپريدي) يادونه شوېده. په مهاباراتا چې په سنسکرت ژبه کښل شويدی د اسواکا يادونه شوې چې احمدعلي کهزاد اسواکا يا اسواغانا د سنسکرت يو ترکيبي کلمه ګڼلې چې د اس او مکان مانا لري.

دلته د اس کلمې يادونه وشوه، هغه مهال چې په باختر کې اسپه کورنۍ واکمنه وه تاريخپوهانو يو شمېر بخدي واکمن د دلهرا اسپه، وشتاسب، ګرشاسپه (غرشاسپه) او اروت اسپه په نومونو يادکړي دي.

ګرشاسپه (غرشاسپه) چې په دويم نسل کې د قومونو د شجرې له مخې فريدون (په اوستا کې تری تونا Traetona راغلی دی) ته رسيږي. ولې فريدون بيا په لسم پښت کې يما ته ځان رسوي. ګرشاسپه کورنۍ د زابلستان واکمن تېر شوي دي، خو غرشاسپ (ګرشاسپ) پيشداديانو کهول ګڼل شويدی.

په اوستا کې د ده پلار ترېتا Tritta په ګوته شويدی نوموړي د هېواد په لرغوني تاريخ کې هغه څوک دی چې له سوما څخه يې زوخا جوړه کړې ده.

همدارنګه د زرتشت پلار پوروش اسپه هم خپله شجره د اسپه کورنۍ پورې تړي.

نامتو لرغونپوه ارين د سوات او باجوړ وګړو په ډله کې د سپه زي Aspazi ټبر يادونه کړې ده چې وروستيو څېړونکو دغه وګړي يوسفزي ګڼلي دي.

يو بل لرغونپوه سترابون اسپه زي د هپه سي په نوم ياد کړي دي. خو سراولف کيرو په پټانز نومي کتاب کې دغه دواړه يادشوې کلمې يوه کلمه بللې او د اسپه زي معرب يې يوسفزي ګڼلي دي.

پوهاند جاويد هم اراکوز يا الکوزي، ساکزي، اسحاق زي (سهاک) او دا ډول (اوستا جاويد۲۵مخ) نور نومونه يو د بل سره ورته ګڼي.

که چېرې ساک زايي، اسحاق زي، سهاک، ضهاک يو شی وګڼل شي نو د دې کلمې ريښه ښايي ساک وي او که داسې وي نو ساکا په هخامنشي ډبر ليکونو کې د Saka په بڼه انځور شويدی چې په تورات کې اشکوز = اشکناز په يوناني متونو کې Skuthui ياده شوې ده. له دغو څرګندونو نه بريښي چې د هېواد په لرغوني تاريخ کې ساک اوسني سهاک، اپريتي اوسني اپريدي، بختيان او سني پښتانه (پختون= پښتون )، ستاګېدي اوسني ختک ګڼل شويدي:

تازيان اندر حصاری قافله در قافله -- بختيان اندر صحاری کاروان در کاروان

(مسعود سعد سلما)

بختګان هرچون بختيان افتان و خيزان مست شوق
نی نشانی از می و ساقی ومی دان ديده اند



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بختیان نفس من که جرس دار شوند
از دهان جرس افغان خرسان یابم
(خاقاني)

یو نامتو ختیزپوه برنارډون لکه د یو شمېر نورو ختیزپوهانو په څېر د پښتنو په اړه اوږدې څرګندونې کړې دي او په پای کې د خپلو څېړنو په ترځ کې دې پایلې ته رسېدلي چې (ډورن د افغانانو تاریخ ۷۲مخ) پښتانه د هندو اروپایي اولسونو د غه ستري کورنۍ غړي دي چې لرغونی تاریخ لري.

جورج روز بیا د خپلو څېړنو په دغه اړخ ټینګار کوي چې (روزجورج د شرق سلطانان ۷۹مخ) پښتانه د یو خپلواک اولس په توګه په هغو سیمو کې ژوند کوي چې ټول روایتونه یې خوندي کړي دي-دوی د فارس سلطانان وو او په کلونو کلونو یې پر هند واک چلولی دی.

یو نامتو تاریخ پوه برؤن Brown چې د ایران په تاریخ یې (وګورۍ د افغانستان تاریخي جغرافیې څرنګوالی ۴۳۱مخ) ډېرې څېړنې کړي دي کاږي چې د غور واکمن ټبر د فېروز کوه د غره اوسېدونکي پښتانه دي.

تامسن ویلیم بل د واکمنو پاچاهانو ټبر د غوري افغانانو د ټبر پاتې شوني ګڼي. ولې (بیلو) په زغرده ویلي چې دا کلمه اریایي ده لومړی (همدغه اثر ۴۳۲مخ) اعوان وو ولې افغان تلفظ کېده چې وروسته د افغان په بڼه معرب شو.

افغان تاریخپوه میرغلام محمدغبار کښلي دي چې پاکت یان یانې پښتانه د پاختیا په ځمکو کې خواره شول ځنې د بودیزم د مذهب پلویان وو خو ځنې بیا د زرتشت.

پوهاند عبدالحی حبیبي بیا په دې اند وو کله چې ساکان یانې دغه ګرځندوی کوچی ټبر (وګورئ د افغانستان لنډ تاریخ ۶۴مخ) د آمو د بهېدو سویل ته د باختر په سیمو کې له پکت دشپخت او پښتنو سره ګډ شوی د ساکه نوم یې په دغو پښتنو کې پرېښود.

جورج مارګینسټرن چې د پښتو ژبې دتاریخي – مقایسوي څېړنې په برخه کې له ډارمستټر نه وروسته د اوچت واک څښتن دی پښتو په ختیزې ایراني ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره نږدې بولي چې وایي پښتو یوه د ساکا لهجه ده. که سړی پښتو د ساکانو لهجه ګڼي نو مانا به دا وي چې (وګورئ پښتانه-پوهاند تږی ۴۶مخ) پښتو لږترلږه دوه زره کاله پخوا معموله وه.

دا به ډېره ګرانه وي چې د پښتنو د اصلي ټاټوبي په اړه ووېل شي چې دوی لومړی چېرته ودان وو. څو کورني او بهرني څېړونکي په دې اند دي چې د دوی لومړی ټاټوبی لکه د نورو اریایي قومونو په څېر بلخ دی لکه د تاریخ پوه غبار خبره که چېرې پاکت یان (پاکتر= باکتر) یا پختانه = باختانه (پاختر= باختر) اوسني پښتانه وي خو د دوی اصلي ټاټوبی باختر دی.

پوهاند حبیبي ویلي دي چې: سوریان د خراسان او غور د ا فغانانو یو ټبر وو چې تر اوسه هم (هماغه اثر ۱۷۱مخ) د هرات شمال لویدیز د بادغیس زوراباد = سوراباد په شاوخوا کې د زوري (سوري) په نامه استوګن دي.

د سوري کورنۍ له نومیالیو څخه یو هم د خرنک زوی شنسب (شین اسپ) وو چې د منهاج السراج په قول د حضرت علي (رض) هممهالی وو او د ده په وخت کې د اسلام سپېڅلی دین ومانه. لومړنی حکمران وو چې له ده نه وروسته د ده اولاده امیرفولاد غوري (سوري) په تخت کېناست.

د سوریانو په اړه تاریخپوهانو ډېرې څېړنې کړي دي او د شجرې له مخې دې پایلې ته رسېدلي دي چې دوی د لودیانو له پښته دي چې اصلي ټاټوبی یې غور دی.

له لودي او سوري ټبر نه زموږ د هېواد په تاریخ کې ډېر نومیالي پېژنو چې نه یوازې په افغانستان واکمن وو بلکې د هېواد نه بهر ان د هند په نیمه وچه یې هم ټولواکمني چلولې ده ، چې موږ د شنسب له اولادې نه امیر فولاد غوري، امیرکروړسوري، شېخ حمید لودي ،نصرت لودي، داود لودي، امیر سوري، امیرمحمدسوري، امیربوعلي د محمد سوري زوی او نور د بېلګې په توګه یادولی شو.

همدارنګه پوهاند حبیبي لیکلي دي چې ابوالمظفر معزالدین محمدبن سام قسیم امیرالمؤمنین هم د ختیز او آل شنسب (همغه اثر ۱۸۱مخ) ستر پاچا وو.

د دغې کورنۍ یو ستر واکمن غوري شهاب الدین و چې د خپلې ټولواکمنۍ لمن یې د هند تر نیمې وچې پورې وغوځوله.

د همدې لړۍ په بنسټ لودي بهلول ، لودي سکندر، لودي ابراهیم ، سوري شېرشاه، سوري سلیم شاه او په سلګونو نوابانو او د پښتنو مشرانو د هند په نیمه وچه په مرکزي او سیمیزه کچه حکومت کړی دی.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې له میرویس نیکه نه وروسته محمود هوتک او شاه اشرف هوتک نه یوازې د افغانستان واکمن وو بلکې د خپلې ټولواکمنۍ لمن یې ان د ایران تر اصفهانه پورې ورسوله.

همداراز ابدالي احمدشاه چې کله په ۱۷۴۷کال په تخت کېناست نو د خپلې واکمنۍ د پراختیا او پرمختیا لپاره یې مټې راونغاړلې او د یوی لوی ټولواکمنۍ بنسټ یې کېښود چې شمال ته د آمو سیند ، سهل ختیز ته کشمیر او ډیلي او لویدیز ته مشهد او نیشاپور شاوخوا سیمې تر خپل واک لاندې راوستې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

يو شمېر څېړونکي لکه محمودکتبي ،برهان الدين ميرخوانه ، عبدالرزاق ثمرقندي او نور په دې اند دي چې که يو شمېر تاريخپوهان افغان د پښتون ټبر مترادف ګڼي خو د افغان کلمه اوس افغاني مغلو، افغاني ترکانو، افغاني تاجکانو، افغاني شعيه ګانو ، افغاني سونيانو ، افغاني هزاره ګانو او نورو مېشتو **بېلابېلو قومونو ته** استعماليږي.

پاتې لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ